AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شهسوارسنګروال ۲۰۲/۱۰/۲۰

# د غوراصلي اوسېدونکي،

## (ترکان، پښتانه که تاجکان)

## ۶برخه

**خراسان اوغوري غياث الدين**

د روايتي شجرو له مخې سوري او لودي قومونه د يوه نيکه اولاده ګڼلی کيږي، چې ډېرو تاريخپوهانو د دوئ اصلي استوګنځای غور بللی دی.
هغه مهال چې د خلکو د شکايت پر بنسټ غزنوي پاچا سلطان ابراهيم ،امير عباس بندي کړ، زوي امير محمد د هغه پرځاي د غور واکمن غوره شو.
تر محمد (۴۵۰ هـ) وروسته زوي يې قطب الدين حسين بن محمد بن عباس بن شيش بن محمد بن امير سوري د غور امير وټاکل شو. دده له وژلو وروسته دده زوي ملک عزالدين حسين (۴۹۳ هـ) په تخت کيناست، د خپلې اوښياری له مخې له سلطان سنجر سلجوقي سره اړيکې خوږې او خپل اوه زامن يې په بيلابيلو ولايتونو کې د واليانو په توګه په دندو وګمارل، چې موږ خراسان، غور، زابل، غزني، باميان او تخارستان د ساري په توګه يادولی شو.
د دغه امير د زامنو او د دوئ د کارنامو په اړه لنده يادونه کوو:
ـ قطب الدين محمد چې د ورشاد (ورساد) ولايت چارې يې په غاړه وې د فيروز کوه په تندي يې يوه ستره کلا ودانه کړه، خو د ورونو له غبرګون سره مخامخ شو او غزني ته يې پناه يووړه او د غزني سلطان بهرام شاه له خوا (۵۴۱ هـ) ووژل شو.
ـ د ملک عزالدين حسين بل زوي بهاوالدين سام نومېده او دی د غور منديش په سنګه کې استوګن وو. هغه مهال چې د واک څښتن شو د غرجستان له شارانو سره خپلوي وکړه. د ګيلان ملک بدرالدين لور سره چې د شنسبيانو له پښته وه واده وکړ .
ـ د حسين غوري بل زوي، شهاب الدين محمد خرنک (شنسبي) وو چې د «مادين» ولايت چارې دده په واک کې وې او خپل زوي ملک ناصر الدين يې «د تمران او ګزيو» حکمران وټاکه.
ـ د عزالدين حسين غوري يو بل نامتو زوي شجاع الدين على نوميده، چې د غور د «جرماس» ولايت والي وو او له ده وروسته زوي يې علاوالدين ابو علي دده ځای ناستی وټاکل شو.
ـ د غور د وجيرستان والي علاوالدين حسين د عزالدين حسين زوي وو، چې د خپل ورور بهاوالدين له مړيني وروسته په فيروز کوه کې پر تخت کيناست او په تاريخ کې د علاوالدين جهان سوز په نوم نامتو شو.
ـ د ملک عزيز الدين حسين يو بل نامتو زوی سيف الدين سوري وو، چې تر ډېره بريده تاريخپوهانو دی د غور لومړی سلطان ياد کړيدی.
ـ د غور د «کاسي» ولايت حکمران ملک فخر الدين د حسين غوري هغه زوي وو، چې له ټولو ورونو نه مشر وو او د خپل ورور سلطان علاوالدين جهان سوز د واک په مهال د باميانو والي وټاکل شو.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکې په خير و لولئ

د غوریانو د واک او ځواک دب دبه هغه مهال سیمي او نرۍ ته د پام وړ وګرځېده، چي د بهاوالدین سام دوه زامن غیاث الدین غوري او شهاب الدین محمد د سیاست ډګر ته راووتل.

**سلطان غیاث الدین،**

سلطان غیاث الدین د محمد سام بهاوالدین زوي، د ملک عزالدین حسین لمسی د قطب الدین حسن کړوسی کړېږي او قطب الدین حسن بیا د محمد زوي د عباس لمسی د شیش کړوسی دی.

شیش د امیر محمد زوی او د سوري لمسی، چي په لویه کي د امیر فولاد سوري بن شنسب بن خرنک تېر ته ځان رسوي .

سلطان غیاث الدین د بهاوالدین سام زوی په ۵۵۸ هـ (۱۱۶۲ ز کال) کال د فیروزکوه په تخت کیناست.

هغه وخت چي سلطان سیف الدین واک ته ورسېد خپل دوه د تره زامن غیاث الدین او شهاب الدین (معز الدین محمد سام) یې د وجیرستان له بنده ازاد کړل، چي معز الدین محمد له خپل کاکا فخر الدین مسعود سره چي هغه د بامیانو والي وو اوسېده او غیاث الدین له سلطان سیف الدین سره د «غزان» په جګړه کي مل وو.

کله چي سیف الدین د خپل سپه سالار ابو العباس شیش له خوا ووژل شو، غیاث الدین ډېر زر ځان د غور پلازاوپا یتخت فیروز کوه ته ورسوه او بیا یې هلته د پاچاهي اعلان وکړ.

عباس بن شیش هم د غور او غرجستان له جنګیالیو سره غیاث الدین ته تسلیم شو او سلطان هم ډېر زر د یوه باثباته مرکزي حکومت د ټینګښت لپاره ټول پوځ منظم کړ او خپل ورور غوري شهاب الدین یې د «استیه او کجوران والي وټاکه.

سره د دي چي د بامیانو والي فخر الدین مسعود، چي معزالدین محمد سام (شهاب الدین) هم له ده سره استوګن وو ولمسوه، چي د خپل ورور پر وړاندې پاڅون وکړي.

ولي شهاب الدین غوري فیروز کوه ته ولاړ او په ګډه یې د سلطنت ستني ټینګي کړي او د خپل کاکا زوی قاتل عباس یې په دار وځړوه.

په طبقات ناصري کي په دې اړه داسي راغلي دي:

»لږه موده وروسته ابو العباس بن شیش د دربار پر وړاندې ستونزې جوړولی او هم یې د هغوئ د کاکا زوي وژلی وو، د یوه چا له خوا یې وواژه «.

دلته دوه ټکو ته اشاره وشوه، لومړی دا چي عباس د سلطان غیاث الدین پر وړاندې توطیې جوړولي، دویم دا چي د خپل کاکا زوي قاتل یې ګاڼه.

سلطان سیف الدین د خپل پلار د پریکړي خلاف غیاث الدین او شهاب الدین یې له زندانه ازاد کړل او ان دا چي د یوه روایت له مخي غیاث الدین یې ببرته د «سنګه» حکمران وټاکه. خو تاریخپوه جوزجاني د خپلو څرګندونو پر بنسټ وایي چي غیاث الدین له ده سره په فیروز کوه کي پاتي شو .

بنایي د عباس د وژلو لاملونه همدا وي، یو خو یې د غیاث الدین د کاکا زوي سلطان سیف الدین وژلی وو دویم دده نوري لاسوهني وې، چي د دوئ واکمنی او ځواک ته یې ستونزې پیدا کولی او دریمه دا چي هغه یو پیاوړی سپه سالارو .

غیاث الدین د خپل ورور شهاب الدین په مرسته عباس، چي په واک نیولو کي له ده سره مرسته کړي وه له مینځه یووړ، ولي هغه وخت چي دده کاکا فخر الدین مسعود په دې بریالی نشو، چي شهاب الدین دده پر وړاندې ودروي، نو بیا یې د هغي کیني له مخي، چي دی د پلار مشر زوي او د دې روایت له مخي چي دی د وینزې (کنیز) زوي وو نو د پلار ځای ناستی ونه ټاکل شو.

هغه وو چي ده بیا د بلخ حکمران علاوالدین قماج او د سلطان سنجر یو تن پلوی د هرات والي تاج الدین یلدوز ته مخ واړوه او له هغو سره یې یوه هوکړه وکړه، چي په ګډه د غوري غیاث الدین پر وړاندې ودرېږي .

دوی په داسي یوې پریکړې سلا شوي وو، چي خراسان به قماج او یلدوز ته پرېږدي او د غور واک به فخر الدین مسعود ته سپاري. هماغه وه چي له درې خوا د غور واکمنۍ تر ګواښ او اور لاندې ونیول شوه.

سلطان غیاث الدین لومړی د هرات هغه غوښن برید د غوري معزالدین محمد په مشرۍ نه یوازې په شا وتمبوه بلکی تاج الدین یلدوز هم د جګړې په ډګر کي ووژل شو.

له دغه بري وروسته غوري پوځ مخ په بلخ وخوځېد او د یوې جګړې په ترڅ کي علاوالدین قماج له مینځه لاړ او د هغه سر یې خپل کاک فخر الدین مسعود ته واستوو.

وروسته د سلطان غیاث الدین ځواکونو، فخر الدین کلابند کړ او سره له هغې هم نوموړی په ډېر درناوي ونیو، بښنه یې ورته وکړه او بیا یې  د بامیانو د والي په توګه پخپله دنده پرېښود.

غوري سلطان په ډېره ببړه سیمه ییزې واکمنی یو د بل پسې لاندې کړې، په ځانګړې ډول هغه سیمې، چي د سلطان سنجر او له غزنوي بهرام وروسته یو شمېر زورواکو لاندې کړې وې، مرکزي حکومت پورې وترلې.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de

یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

د جوزجاني او ميرخواند د څرګندونو له مخې، ويلې شو چې ګرمسير، زمين داور قاد س، کاليون، فيوار او ورپسې غرستان، تالقان، ګرزيوان (جرزوان)، بادغيس، جروم، تګين اباد او يو شمېر نورې لوې او وړې سيمې د دوئ تر واک لاندې راغلې.
هغه مهال چې غزنين د غزانو له دولس کلنې ولکې وروسته، د غورى غياث الدين تر واک لاندې راغى خپل ورور شهاب الدين يې هلته واستوو.(۱۱۷۳ ز کال)
غياث الدين د يوه بريد په ترڅ کې فوشنج ونيو (۵۷۳ هـ ۱۱۷۷ ز) او هغه يې هم د غور مرکز پورې وتاړه. همدا ډول بهاوالدين طغرل له يلدوز وروسته چې د سلطان سنجر يو مريي وو د هرات يو شمېر سيمې يې ولکه کړې وې ، پرته له جګړې نه (۵۷۱ هـ) خوارزم ته وتښتېد.
سلطان غياث الدين محمد سام او شهاب الدين محمد سام دواړو ورونو د خپل دري څلوېښت (۴۳)کلنې پاچاهى په موده کې نه يوازې دغوري او غزنوي سلطنت دب دبه بېرته راژوندى کړه بلکې شهاب الدين محمد سام په هندوستان کې دا سلامي سلطنت بنسټ ته لاره پرانسته.
سلطان غياث الدين محمد سام، چې بهاوالدين طغرل خوارزم ته وځغلوه، نو بيا يې خراسان تر نيشاپور، پنجده او مرو پورې (۱۲۰۰-۱۱۹۹ ز) له خوارزمشاهانو نه ونيو. ګرګان، مکران، سيستان، ګرديز او کابلستان يې يو د بل پسې د غور پلازاومرکز پورې وتړل.
د خوارزمشاهانو له ماتې وروسته ملک ضيا الدين ابو علي شنسباني يې د نيشاپور حکمران وټاکه. د مرو واک يې ملک نصر الدين محمد خرنک ته وسپاره او تاج الدين زنګى بن فخر الدين مسعود باميانى يې د «سرخس» والي غوره کړ.
د غوريانو د واک په مهال د هېواد څلور خوايې، د غزنويانو د ټولواکمنى په پرتله داسې په ګوته کولى شو.
لومړى د غزنويانو د پير په مهال د غزنوى محمود د واک په مهال د هېواد څلور خواوى داسې وې :
سهل پلو تر سومنات (په ګجرات کې) ،لاهور، سرهند، ډيلي، اکره، ګاليار، کالنجر او بنارس پورې د ګنګا د رود تر غاړو .شمال لور ته ماوراالنهر او مرو، ختيځ ته کشمير او لوېديځ خواته تر اصفهان او همدان پورې د افغانستان پولې وې.
د غوريانو د واک په وخت کې د افغانستان څلور خواوې داسې په ګوته کولى شو :
شمال ته د مېنځنى اسيا سيمې د جيحون تر سينده، سهل ته عرب سمندرګى پورې ختيځ پلو د ګنګا تر ټاپو او لوېديځ لور ته خراسان، خوارزم او نيسايا پورې، چې په ټوله کې مورږ مېنځنى اسيا، د هندوستان شمالي سيمې، تر عراقه، له چينه تر جيحونه د هرمز تر روده پورې.
د دې ټولې پراخې سيمې ټولواک يوازينى شهنشاه غياث الدين غوري وو، چې د بغداد خليفه خپل استازى ابن ربيع پلازمېنې فيروز کوه ته راولېږه. غوري غياث الدين هم د اسلامي او ډيپلوماتيکو اړيکو له مخى خپل سفير د جوزجاني پلار سراج الدين محمد منهاج جوزجاني بغداد دربار ته واستوو.
کله چې غياث الدين د بغداد له خليفه سره ډيپلوماتيکې اړيکې پراخې کړې، بيا يې خوارزم ته زياته پاملرنه واړوله، چې په دې کې د بغداد د خليفه الناصرالدين الله سرخوځونه هم شامله وه، ځکه چې له خوارزمشاهانو يې وېره درلوده. خوارزمشاهانو له يوې خوا خپل مېنځې ستونزې درلودې او له بلې خوا يې وليدل چې د فيروز کوه او بغداد تر مېنځ دوستانه اړيکې ټينګې شوي دي. نو خپله روحيه يې له لاسه ورکړه. بيا يې دا خبرتيا هم ترلاسه کړه، چې غوري واکمنو د غزنويانو وروستى واکمن ملک شاه د ملک خسرو زوې په لاهور کې ونيو او پنجاب يې لاندې کړ.
د هند د نيمې وچې له فتحې وروسته دخراسان ستونزې هم، خوارزمشاهانو ته د اندېښنې وړ وې، چې ورځ په ورځ غوريان پياوړي کېدل.
سلطان سنجر پداسې حال کې چې له مرګ سره لاس وګريوان وو، خپل د خور زوې محمود، د محمد ارسلان قراخانى زوې خپل ځاى ناستى غوره کړ.
خو هغه دغه وس پيدا نکړ، چې خراسان کې روان کړکيچ کابو کړي. چې مورږ په دغه لړ کې د سلطان سنجر د يوه غلام «مويد الدين آي ابه» او «ايل ارسلان خوارزمشاه»، چې د نورو په پرتله ځواکمن وو يادولى شو. مويد الدين آى ابه په ۵۵۶ ه ق کال نيشاپور لاندې کړ محمود خان او د هغه زوې يې بنديان کړل.
د ابن اثير د څرګندونو له مخې د هغو له سترګو يې سيخ تېر کړ، دواړه يې په غبرګو سترګو ړانده کړل او د خراسان له سياسته يې ګوښه کړل «.
د دې لپاره چې ده د يو ځا ملاتړ خپل کرى وي نو بيا يې خپل سيمه ييز واک د ارسلان بن طغرل سلجوقي لمن ته وغورځوه، ځکه چې هغه د عراق حکمران وه او له ده څخه يې د واک او ځواک لمنه پراخه وه.
همدا ډول اختيار الدين ايثاق (ايتاق) آي تک چې د سلطان سنجر له پلويانو څخه ګڼل کېده او د «دهستان» حکمران وو، ده هم د «ايل ارسلان خوارزمشاه» تابعيت ته غاړه کېښوده.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

د سلطان سنجر یو بل غلام امیر صلاح الدین سنقر و،چې په ۵۵۹ هـ ق کال تالقان او غرجستان یې ولکه کړي وو.
د مازندران پاچا هم بسطام او قومس لاندې کړل او د دغو سیمه ییزو واکمنو د ناخوالو له بابته یو شمېر کسانو ته د غلا او لوټ لاره اواره شوه.
د دغو سیمه ییزو واکمنو په لړ کې «ایل ارسلان خوارزمشاه» د خراسان په جګړو کې د نورو په پرتله ځواکمن وو، نو ځکه خو یو شمېر سیمه ییزو حکمرانانو دده تابعیت ومانه او خطبه هم دده په نامه ولوستل شوه. ولې دده له مرګه (۵۶۸ هـ ق) وروسته دده د زامنو تر مینځ سیاسي اخ و ډب دې کچې ته ورسېد چې سلطان شاه محمود له علاوالدین تکش نه ماته وخوړه او د خپل ورور له وېرې خراسان ته راغی او «مویدالدین آي ابه» له ده نه یو ښه سیاسي ګټه واخسته د هغه ملاتړ ته یې ځواکونه واستول.
د دواړو جنګیالیو تر مینځ د خوارزم په جنوب کې سخته جګړه ونښته، چې د خراسان ځواکونو ماته وخوړه او «مویدالدین آي» یرغمل او په پای کې ووژل شو.
سلطان شاه محمود او مور یې «ترکان خاتون» دهستان ته وتښتېدل، چې ډېر ژر یې د سلطان شاه محمود مور ونیوله او علاوالدین تکش له خوا ووژل شوه، خو پخپله خراسان ته پر شا شو.
سلطان شاه نه یوازې تخت له لاسه ورکړ، بلکې مور یې هم په ډېرې بېرحمي ووژله شوه نو ځکه یې د غور دربار ته مخه کړه او له سلطان غیاث الدین محمد یې مرسته وغوښته.
د جوزجاني له څرګندونو ښکاري، چې فضل الله همداني، میر خواند ، ابن اثیر او خواند میر هم دده د خبرو پخلی کړیدی، چې غیاث الدین ده ته هر کلی وواېه خو ترې ډېر تینګ ملاتړ یې ونه کړ.
ښایي د دې یو ستر لامل به دا وو، چې د غوریانو د سلطنت په دویمه لسیزه کې د هېواد ختیځو سیمو ته پاملرنه زیاته وه، نه یې غوښتل چې د بل جنګ خپل نغري ته راوړي، نو ځکه خو دوئ تر ملتانه پورې خپل واک او ځواک پراخ کړ او په ۱۱۸۱ ز کال یې لاهور هم ونیوه.
د سلطان شاه بخت هغه مهال بیدار شو، چې د علاوالدین تکش او «قراختایانو» تر مینځ اختلاف مینځته راغی.
که څه هم سلطان غیاث الدین د دوئ اخ و ډب له نږدې څاره، ولې د سلطان شاه مخه یې هم نه وه ډب کړې، نو همدا لامل وو، چې هغه د خپلو مکاناتو له مخې او هغه اسانتیاوې چې سلطان محمد غوري ورته برابرې کړې وې، له مروې نه تر نیشاپوره پورې پرمختګ وکړ.
کله چې غیاث الدین ولیدل چې د دوئ سیالان، طغان شاه، علاوالدین تکش او نور سیمه ییزه واکمن یو د بل پسې له پښو غورځي او د ابن اثیر د څرګندونو پر بنسټ سلطان شاه، مرو، سرخس، طوس ونیول، بیا یې په غوریان برید وکړ او یو شمېر ښارونه هم لوټ کړل، لکه پوشنج، بیوار، بادغیس او نور.
غوري سلطان د یوه لوی پوځ سره چې د غزني جنګیالیو مشري د معزالدین محمد په غاړه وه، شمس الدین محمد بیا د بامیانو د لښکر مشري په غاړه درلوده او د سیستان میرنی چې د ملک تاج الدین حرب په مشر تابه راغونډ شوي ول، لومړی یې مروه رود لاندې کړ چې سلطان شاه (۵۸۸ هـ ق) له ماتې وروسته د مروې پلاز ته ستون شو.
علاوالدین تکش، چې د ورور له ماتې خبر شو، نو خراسان ته یې خپل ځواکونه واستول، چې هغه ونیسي.
د سلطان غیاث الدین ځواکونو یو د بل پسې له مرغابه تر نیشاپوره پورې سیمې ونیولې او خوارزمشاهانو ته یې ماته ورکړه.
په سلطان شاه چې ځمکه تنګه شوې وه، د غور لور ته یې مخه کړه غوري پاچا هم خپلو درباریانو ته ولیکل چې له نوموړي سره ښه چلن وکړي.
علاوالدین تکش له سلطان غیاث الدین وغوښتل چې خپل ورور سلطان شاه وروسپاري، ولې هغه ورته ووېل، چې ستا ورور موږ ته پناه راوړې ده، داکار نشوکولی .
بیا یې د یوه لیک په ترڅ کې له هغه وغوښتل چې په ټول خوارزم کې به دده په نوم خطبه ویل کیږي او خپله خور به دده ورور غوري شهاب الدین محمد سام ته په نکاح کوي.
علاوالدین تکش نه یوازې دده وړاندیز رد کړ بلکې د جګړې ګواښ یې هم وکړ.
غوري سلطان محمد خپل د خور زوې «الپ غازي» او ملک سیستان د تکش ورور سلطان شاه په ملتیا له ګڼو جنګیالیو سره خوارزم ته ولیږل.
ولی علاوالدین تکش غوښتل چې له سلطان غیاث الدین سره روغه وکړي، چې جوزجاني هم ددې خبرې پخلی کړیدی او د خوارزمشاه تکش د نکل له مخې ، کاږلي دي چې هغه به ویل: «زما پلار محمد خوارزمشاه له سلطان غیاث الدین سره ښې اړیکی درلودې .» نو همدارنګه د غوري سلطان غیاث الدین محمد او خوارزمشاه تر مینځ هم د استازو تګ و راتګ نه څرګندیږي چې تکش له غیاث الدین نه د ښه ګاونډیتوب هیله درلوده او غوښتنه یې وکړه چې خراسان ده ته پریږدي که څه هم تر دغه دمه سلطان د دې وس نه درلود، چې خراسان کابو کړي.

**د خراسان نیول**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

مخکې له دې چې د سلطان غیاث الدین واک ته سر ښکاره کړو، چې خراسان يې څرنګه ولکه کړ؟ ښه به وي چې د خراسان نوم او جغرافیې ته تم شو، چې د دغه نوم فزیکي وجود او جغرافیوي حدود ټاکلی شو؟؟
په دې اړه د مخه هم یو څه څرګندونې شویدي، خو دلته يې په لنډه توګه يادونه ضروري او اړينه ګڼو:
۱ـ خراسان د لمر خاته (مطلع الشمس) په مانا دی، چې د اسلام دین له خپرېدو وروسته زموږ د هېواد یو شمېر سیمو ته کارول شویدی.
۲ -ولې د خراسان نوم د اسلام له دین نه دمخه د ساسانیانو موسس ارد شیر (۲۲۶ ز کال) چې کله د پارتیانو پلازاو مرکز «ستیسیفون »ونیو هغو ته ماته ورکړه او بیا يې ختیځ لور ته شاتګ وکړ نو دلته د اردشیر له خوا د خراسان کلمه وکاورل شوه.
۳ -پارتیان تر ډېره داهستان کې استوګن ول، دوئ په اصل کې داهیان dahi وه او له اپارني (aparni) څانګې سره يې تړاو درلود، چې د ساکانو «مساګیتا» قوم ته منسوب ګڼل کېږي.
۴ -خراسان قومي اوسیاسي مفهوم نه درلود، بلکې جغرافیوي حدوداوفزیکي وجودیې هم دیوه هېواد په توګه دیوه ټاکلی معیار درلودونکی نه وو، که څه هم په سر کې نیشاپور ته کارول شویدی او بیا مرو، هرات او بلخ چې دیوه لنډ مهال لپاره د خراسان څلوربښارونه او برخې ګڼلې کېدې دغه نوم پرې ایښودل شویدی.
۵ -د هېواد «نوم ورکي تاریخپوه» د سیستان په تاریخ کې دغه نوم ډېر ښه انځور کړیدی ... هغه وایي، څومره چې شمال پلو ته ځو باختر دی او څومره چې جنوب پلو ته لاړ شو نیمروز دی ، ولې مینځنۍ برخه په دوه برخو وېشو، څومره چې لویدیځ پلو ته ځو د پارس ښارونه دي اوڅومره که دپارس ختیځ لور ته ځو نو خراسان دی.(۴- وګوري ۳ مخ)
۶ -هغه مهال یانې د حضرت عمر (رض) په زمانه کې چې عربان جنګیالي اوسني ایران ته راورسېدل نیشاپور د خراسان مرکز وه او بیا چې عربو له پارس نه پښنه راواړوله د خراسان مرکز مرو ښار وو. یانې په ټوله کې کومې سیمې چې د پارس ختیځ ته پرتې وې د خراسان یا ختیځ په نوم یادېدې، چې په پای کې تر سغداني پورې پراختیا ومونده.
۷» -هیوکنیدي» په دې اند دی، هغه مهال چې وروستي ساساني پاچا دربیم یزګرد په نهاوند (۶۴۰ هـ) کې ماته وخوړه او د عرب ځواکونو له وېرې سیستان ته لاړ، چې بیا له سیستانه مخ په خراسان روان شو «.او د مروې والي ماهوري په سر څوځونې د خسرو نومي ژرنده ګري په لاس ووژل شو.
له دې څخه ښکاري، چې سیستان د خراسان د جغرافیې برخه نه وه، بلکې مرو يې خراسان باله. د غوریانو د واک په مهال خراسان تر ډېره بریده د خوارزمشاهانو تر ولکې لاندې وو .
غوري غیاث الدین هم له هغې شیبې نه ښه ګټه واخسته، چې علاوالدین تکش (۵۹۶ هـ ق) ومړ او وراره يې د ملکشا زوی «هندو خان» غوریانو سره یو ځای شو.
د مروې والي «چغرترک» چې کله مروه هندو خان ته وسپارله، نو هغه وو چې غوریانو پنجده او مرو رود هم لاندې کړل او غوري شهاب الدین محمد چې له هند نه راستون شوی وو له خپلو ځواکونو سره سیمې ته ورسېد او سرخس يې کلابند کړ او د خپل کاکا زوی (۵۹۷ هـ ق) امیر تاج الدین زنګي يې د هغه ځای والي وټاکه.
بیا شهاب الدین محمد «جرجان او بسطام» هم پخپل واک کې راوستل، وریسې يې «قهستان او ګناباد» هم د اسماعیلي فرقې له کسانو ونیو او قاضي تولک يې د هغه ځای والي کړ.
سلطان غیاث الدین د شیعه مذهب پیرو وه او شهاب الدین غوري، چې د غزني نایب الحکومه وټاکل شو نو سونی مذهب ته يې عقیده پیدا کړه. نو د «ابن اثیر» د څرګندونو پر بنسټ کله چې شهاب الدین د اسماعیلي فرقې پلویان او پیروان وځپل نو بیا د دواړو ورونو تر مینځ نایووالی رامینځته شو.
ولې سره د هغې هم غوریانو مرو، سرخس او نیشاپور یو د بل پسې ونیول ،خو ډېره موده نه وه تېره، چې د خوارزمشاه علاوالدین محمد ځواکونو نیشاپور (۵۹۷ هـ ق) کلابند کړ او د دیني علماو په مینځګړیتوب د نیشاپور والي ورته تسلیم شو.
سلطان علاوالدین محمد، له دېنه دمخه یو لیک سلطان غیاث الدین محمد ته استولی وو، چې دده د پلار د یوه دوست په توګه دی خپل زوی وګڼي او هم د ده له مور سره واده وکړي . ( ولې یو شمېر څېړونکو شهاب الدین په ګوته کړېدي )
ده له غوري سلطان نه د خوارزم او خراسان د منشور غوښتنه هم کړې وه، خو غیاث الدین او شهاب الدین محمد ورسره ونه منله.
هغه مهال يې چې بیا نیشاپور ونیو، په داسې حال کې چې والي ته يې یو څه ډالۍ وروسپارلې او غور ته يې ولېږه ، له دې پرته يې د نیشاپور والي ملک ضیا الدین نه غوښتنه وکړه چې دده او د سلطان غیاث الدین تر مینځ اړیکې دوستانه کړي.
د غور سلطان هم چې دده ځواني ولیده، نو بیا يې دده ورور علي شاه چې له ده سره یرغمل وو هم ور خوشې کړ.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

د ابن اثیر د وینا له مخې خوارزمشاه، چې نیشاپور ونیو بیا یې سرخس کلابند کړ. خو والي تاج الدین زنګي د خلکو پر مټ د خوارزمشاهانو لښکر په شا وتمبو او علاوالدین هم ولیده چې کلابندي له ځلوېښت ورځو واووښته نو بېرته یې شاتګ وکړ، خو د درې زره (۳۰۰۰) په شاوخوا کې سواره ځواکونه پرېښودل .
ولی د «محمد چربک» له لاسه یې سخته ماته وخوړه او سلطان علاوالدین محمد دېته اړ شو چې د سولې وړاندیز وکړي .
سلطان غیاث الدین محمد هم خپل استازی حسین بن محمد مرغني هغه ته واستوو، چې د خوارزم خطبه دده په نوم ولوستلی شي.
خو سلطان علاوالدین محمد نه یوازې د هغه د وړاندیز پخلی ونه کړ بلکې هغه یې زنداني کړ او بیا یې پر هرات برید وکړ.
دلته نه یوازې د هرات والي عمر مرغني د خوارزمشاهانو پر وړاندې ټینګ ودرېد، بلکې غیاث الدین محمد، شهاب الدین او الپ غازي د یوه ستر لښکر سره هرات ته ورسېدل او خوارزمشاه په بیړه بیرته خوارزم ته ستون شو او د بیباوری له بابته یې د نیشاپور واکمن امیر سنجر هم وواژه .
شهاب الدین محمد چې له هنده یو څه ډاډه شوی وو نو بیا یې بلخ، بامیان، مرو او مرغاب کې سمسمکی راووست، وې پتیله چې په خوارزم برید وکړي خو د سلطان غیاث الدین محمد د مړینې له امله یې هغه برید وځنډوه. (۵۹۹ هـ ق – ۱۲۰۲ ز کال)

**سلطان غیاث الدین د یوه ټولواک په توګه**
سلطان غیاث الدین یو څلوېښت (۴۱) کاله پاچاهي وکړه او د دریمې خور یانې د جمادی الاول پر ۲۷ مه د چارشنبې ورځ د ۶۳ کالو په عمر، هرات کې ساه ورکړه او په هغه جومات کې خاورو ته وسپارل شو، چې ده پخپله ودان کړی وو.
» غیاث الدین د خپل مهال یواځنی شاهنشاه وه چې د میځنی اسیا ډېری سیمې نیولې وې ، د چین له پولې تر جیحونه له هندوستانه د عراق تر خاورې، له ایرانه راواخله د هرمز روده پورې، دا ټوله ارته او پراخه سیمه یې د غور د فیروز کوه تر بیرغ لاندې راوسته او په لنډه توګه ویلی شو، چې د خزر له کڅونو نیولې ترجمنا، له جیحونه راواخله تر بلوچستانه پورې، خطبه د غیاث الدین په نوم وویل شوه «.
سلطان غیاث الدین محمد لومړی د «محمد کرام سیستاني» په مذهب وو، وروسته یې شافعي مذهب ته مخ واړوه او دده په دربار کې نامتو پوهانو لکه قاضي وحید الدین شافعي مروروديِ او صدرالدین کرامي نیشاپوري شتون درلود.
همدا راز دده د دربار نامتو غړي دا وو:
معز الدین هروي قاضي قضات او قاضي شهاب الدین شمس الملک، عبد الجبار ګیلاني، فخر الملک شرف الدین فروری، مجدالملک دیو شاهي داری، عین الملک سوریاني، ظهیر الملک سنجري او جلال الدین د یو شاري د وزیرانو په توګه دندې په غاړه درلودې.
د هغه مهال ګڼ شمېر تاریخپوهانو، سلطان غیاث الدین د خپلې زمانې یو ستر شهینشاه ګڼلی دی او د درناوي وړ یې بولي په دغه لړ کې ابن اثیر په دې ټینګار کړی، چې «سلطان جګړو ته ډېر ارزښت نه ورکوه او لړه پاملرنه یې ورته درلوده، ورپېښې ستونزې یې په اوښیارۍ او سیاسي لارې ، پرته له جګړې پایته رسولې «.
د سلطان غیاث الدین محمد د ژمي پلاز «زمینداور» او د اوړي پلازمینه یې «فیروز کوه» وو.
دی پخپله یو لوستی انسان وو او ډېر ښکلی خط یې درلود، چې ان قرانکریم به یې هم پخپل لیکدود لیکه.
د غوري سلطان غیاث الدین محمد د څو غوره کړنو بېلګې داسې په کوته کولی شو:
۱ـ ده له علماو سره ډېره مینه درلوده او هیڅ ډول مذهبي تعصب یې نه درلود، خو د یوه خوب د تعبیر له مخې شافعي مذهب ته واووښت.
۲ -د ښه خوي څښتن وو، د چا مال او شتو ته یې سترګې نه وې پټې کړې.
۳ -د هرات د جامع جومات ودانول دده له موهمو ودانیو څخه ګڼل کېږي.
۴ -له دېنه پرته نورې کومې ودانۍ چې جوړې شویدې، د مستوفي حمدالله د څرګندونو له مخې په دې توګه دي:
ـ د دولس زرو دکانونو جوړول، د شپږ زره حمامونو او کاروان سرایونو ابادول.
ـ د ۳۵۹ مدرسو، خانقاو اورتونونو جوړل او رغول.
ـ د ۴۰۰۰ کوروونو ابادول.
جوزجاني په دې اند دی، چې غیاث الدین محمد په زمین د اور کې یو ښکلی بڼ ودان کړی وو، چې ښکلي چمنونه او د صنوبر ښکلي ونې یې زړه راښکونکی وې.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ